Ministerie van Sociale Zaken en Werkgelegenheid

# په ټولنی کی د ګډون تصدیق
## هالنډ ته ښه راغلاست

په ټولنه کی ګډون او همدارنګه د ارزښتونو خپلواکی، مساوات او یو د بل سره ترون، مونږ ته په هالند کی ډیر ارزښت لری . تاسو ارزښتونو سره هم حقوق تړی دی چه تاسی یی د تر لاسه کولو غوښتنه کولای شی .تاسی کولای شی داسی وبولی چه ګه دولت د هغو بنستیزوحقوقو ضمانت کوی چه ټولو ته د اعتبار وړ دی .دغه لاندی ارزښتونه د هالنډ لپاره ډیر مهم دی : خپلواکی، مساوات /برابری، ترون او په ټولنه کی ونډه اخیستل.

خپلواکی:
په هالنډ کی هر څوک کولای شی هغه څه چه غواړی وکړی او ووایی، سر ته یی ورسوی .یعنی چه:
-هر څوک خپل نظر ویلای شی؛
-هر څوک خپل دین او د ژوندانه ډول کولای شی ولری؛
-هر څوک خپلواک دی چه عقیده ولری او که نه؛
-هر څوک دا حق لری چه خپل انتخاب ولری او خپلواک وی ( خپل د ځان اختیار ولری).
په دی کی هم حدود شته .هغه څه چه تاسی کوی او وایاست باید قانون سره مخالف نه وی .د بیلګی په توګه :په عمدی توګه سره توهین، تبعیض او نفرت ته تحریک کول مجاز نه دی.

مساوات/برابری:
په هالندی کی د ټولو وګړو سره په یووه شان چلن کیږی .تبعیض نه منل کیږی.

ترون:
په هالنډ کی وګړی په ګډه سره د ټولنی مسوولیت لری. وګړی د یوه مصوون چاپیریال، سمی هستوګنی، د کار منصفانه شرایطو او د کار حداقل معاش، ښه زده کړی او د ښه روغتیا حق لری .دولت مکلف دی چه د خلکو نه د زور زیاتی او غیر منصفانه چلن په مقابل کی حمایت وکړی .په اصل کی باید وګړی خپل د ژوندانه چاری او لګښت خپله پر مخ بوځی .که چیری ددی توان نه لری او هیڅ څوک نشته چه مرسته ورسره وکړی نو باید دولت مرسته ورسره وکړی.

په ټولنه کی ونډه اخیستل:
د بیلګی په توګه د کار په سر ته رسولو سره، ښونځی ته په تګ سره او د خپل خوښی) داوطلبانه (کار په سر ته رسولو سره . دا په یوی ښوونځی او یا یوی
ټولنی کی وی .په هالندی ژبی خبری کول په دی کارکی ډیر ارزښتمند دی.

ز ه تصدیق کوم چه ز ه د هالند د ټولنی په دغه پورتنی ارزښتونو باندی پوه شوم او احترام یی کوم. زه اقرار کوم چه د هالند په ټولنی کی به فعاله توګه سره خدمت وکړم او هیله لرم چه نور وګړی هم ماته د دی لپاره وخت راکړی

نوم و تخلص:
د زیږیدلو نیټه:
لاسلیک:
______________

نیټه _______ - _______ - __________ ځای ______________